# پښتو منظوم ادب کښې
# د جدید اصنافو پنځه نمونې

کرن خان*

**Abstract:**

The author of this paper has pointed out new generes in Pashto poetics i.e. Hykeza, Takaeza, Takoreza, Taskenai and Kakareza. Actually, these genres have been composed of some of the already existing genres of Pashto and formed a new genre.The author of this paper claims the said genres new addition to Pashto poetics. He has given examples and peculiarity from other genres.

پښتو شاعرۍ د فطرت نه ځان په فاصله نۀ دی ساتلی. په هر دور او هره زمانه کښې ئې د ژوند غوښتنې او رنګونه د خپل تخلیق برخه ګرځولې ده. او که چرته د عملي مرحلوه نه هم راتېره شوې ده نو هلته ئې هم د ژوند د فطري لارو نه تيښته نۀ ده کړې. علمي موضوعات ئې هم د فطرت په رنګونو او خوندونو کښې داسې رانغښتې دي لکه د نظر وسعتونه چې د سترګو په قرینه کښې راټول شي. دغه وجه ده چې د ارتقاء سفر ئې ځان سره مختلف هئيتي شکلونه او ګڼ تجرباتو اړخونه راوړي دي. دا حقيقت دی چې د يوې ژبې په پرمختګ کښې د لفظونو او تورو اضافه مرکزي کردار لوبوي. دغه رنګ ژبه د اصنافو په راتګ باندې ګټوره کيږي. کومه ژبه چې د ترقۍ او پرمختګ په دغه راز خبر وي نو د دنيا د ژبو په قطار کښې هم وړاندې او ښکاره ښکاري.

پښتو ژبه او پښتو شاعري د داسې قام او د خاورې ژبه ده چرته چې د زمکې او اسمان ټول انقلابات په يوه نقطه کښې راښکاره کيږي.

د ژوند سحر ماښام د موسمونو توده ساړه، دحالاتو تيټ هسک، د پښتنې خاورې په رګ رګ او ساه ساه کښې اغږلی شوي دي، هم دغه سبب د ی چې پښتو شاعرۍ د الفاظو او مضامينو سره سره په خپل وجود کښې نوي نوي اصناف هم رايو ځای کړي دي. پښتو ژبې او شاعرۍ دا کار په دؤ سطحو او دؤ مرحلو کښې ترسره کړی دی او لګيا دی ترسره کوي. هغه اصناف کوم چې د دنيا په نورو ژبو کښې مقبول او

---

* P.hD Scholar Pashto Academy Peshawer University of Peshawer , Khyber Pashtoon Khwa.

معصره پاتې شوي دي. پښتو شاعرۍ هم خپلې سينې ته راجوښت کړي دي او په هغه پيرائې کښې ئې د ژوند حقيقتونه په لوستونکو پيرزو کړي دي. مثال په توګه غزل، سانيټ، هائيکو، هائيکائي په دې لړ کښې وړاندې کيدی شي، دويم هغه اصناف کوم چې د پښتو شاعرۍ د ايجاد او تجربې په جولۍ کښې ځان سره راوړلي دي. يا داسې اصناف چې د پښتو شاعرۍ ذاتي اصناف ګڼلی کيږي په هغي کښې ئې د نوؤ تجربو پيوندونه لګولي دي. مثال په طور ټپئيزه، ټکوريزه او ټپئيزه نظم، دا د پښتو د ټپې د وجود نه وتي ذاتي اصناف دي. دغه شان د پښتو شاعرۍ د خپلې تجربې په لمنه کښې تسکينۍ، کاکړيزې، غاړيزې او داسې نور اصناف چې د پښتو د ذوق او تخليق د پراښتيا راز ترې څرګنديږي. دلته به مونږه د پښتو منظوم ادب کښې په پنځوؤ نوؤ تجرباتي صنفونو خبره کوؤ.

١. هائيکيزه
٢. ټيکئيزه
٣. ټکوريزه
۴. تسکينۍ
۵. کاکړيزه

### ١. **هائيکيزه**:

هائيکو د اوږد نظم د يوې برخې هاييکائي نه د اسې راوتی دی لکه څنګه چې د قصيدې د يوې برخې د تشبيب نه غزل راوتی دی. هائيکو په بنيادي طور باندې د جاپان د شاعرۍ يو داسې صنف دی چې هغې کښې موضوع داسې راوړی شي لکه څنګه چې پيکټوګرافک لنګويج وي يعني د بيان نه زيات شبيه يا ايميج جوړولو باندې زور وي. د دې نه علاوه په دې کښې يو لفظ داسې راوړی شي چې هغې ته مونږه (کي ورډ) وايو. دغه لفظ په هائيکو کښې په څلورو موسمونو کښې د يو موسم نمائندګي کوي ا و د دې تعلق نيچر سره وي.

Haiku, unrhymed Japanese poetic form consisting of 17 syllables arranged in three lines of 5, 7, and 5 syllables respectively. The term haiku is derived from the first element of the word haikai (a humorous form of renga Renga, plural renga, genre of Japanese linked-verse poetry in which two or more poets supplied alternating sections of a poem, or linked-verse poem) and the second element of the word hokku (the initial stanza of a renga.(1)

اظهــارالله اظهــار پــه خپــل کتــاب "زمکــې د اســمان رنګونــه راوړي دي" پــه ســريزه کښې ليکلي دي:

"د ښائسـته اواز سـندرغاړي کـرن خـان دا خيـال ؤ چې د کتـاب نـوم دې پـه يـو "ټکـي" کښـې څرګنـد شـي. بـاوجود د ډېـر کوشـش نـه هـم داسـې تـوری پـه لاس رانغلـو چې د شـاعرۍ مرکـزي احسـاس پـرې بـې تعبيـره نـۀ شـي او د تخليـق وحـدت او اکـائي پـرې نـۀ مـاتيږي. البتـه د ښـاغلي کـرن خـان دا تمنـا وه چـې هـائيکو کښـې نـوې تجربـه پکـار ده چـې وسـعت او فراختيـا اومـومي. او نـوم ورلـه هـائيکيزه ورکـړی شـي. پـه جاپـان کښـې "تنکاتناکـا" هـم داسـې يـو صـنف ؤ خـو زمـونږ تجربـه کـړې هـائيکيزه د خپـل انـداز يـو صـنف دی چـې نـوی ايجـاد ورته وئيل زيات موزون دي."(۲)

د هائيکيزې په حقله اظهار مخکښې ليکي:

"د هــائيکيزې ابتــدائي پنځــه مصــرعې هــم قافيــه وي او پــه هــائيکو کښــې خپــل تکميـل تـه رسـي ګنـي چـې دغـه پنځـه مصـرعې پـه هـائيکو راټـوليږي او د يـو ځانتـه صـنف شـکل اختيـار کـړي. "تنکـا تناکـا" کښـې هـيڅ داسـې اهتمـام موجـود نـۀ ؤ. هـائيکيزه يـو نـوی تجربـاتي صـنف دی. چـې د هـائيکو او غـزل لـه امتزاجـه پـه وجـود کښـې راغلـی دی او دا تجربـه د پښـتو ژبـې او ادب سـره تړلـي ده. د دنيـا نـورو ژبـو کښـې داسـې مثـال نـۀ شـته. د هـائيکيزې يـو صـورت دا دی چـې پـه سـر کښـې د هـائيکو پـه بحـر کښـې پنځـه هـم قافيـه مصـرعې راوړلـی شـي. چـې د هـائيکو د موضـوع داخلـي او خـارجي مماثلتونـه ئـې ځـان سـره جـولۍ کښـې راوړلـي او د هـائيکو اجمـالي موضـوعاتي خاکـه پـه تفصـيل بـدلوي خـو دومـره ده چـې هـائيکو ئـي بيـا هـم د عـروج نقطـه يـا کلائمکـس ګرځـي. داسـې هـم کيـدی شـي چـې د هـائيکو اخـري مصـرعې سـره دې وړومبنـۍ مصـرعې پـه قافيـه کښـې امپـل کـړی شـي. او دوه اولنـۍ مصـرعې دې معـرا وي يـا داسـې هـم کيـدی شـي چـې د هـائيکو دويمـې مصـرعې سـره دې اولنـۍ مصـرعې پـه قافيـه کښـې تړلـی راشـي او اولـه او اخـري د هـائيکو مصـرعه دې معــرّا وي. دا تفصــيل "هــائيکيزې" د تجربــې درې صــورتونه مخــې تــه کيــږدي، يقينــاً چــې د پښــتو شــاعرۍ د صــنفي تجربــه بــه ډېــره ګټــه وره ثابتــه شــي خــو شــرط پــه کښــې د تخليــق تسلسل دی"(۳)

د هائيکيزې د اهميت په حواله ډاکټر اظهار مخکښې ليکي چې دې سره د پښتو ادب ته وده ترلاسه شوه. هغه مخکښې ليکي!

"لنـــډه دا چـــې هـــائيکيزه د نـــاموس هغـــه درون زوروريـــن شـــال دی چـــې پښـــتني روايا‌تو هائيکو ته په سر کړی دی."(۴)

هائیکیزه په پښتو ادب یو منلی شوی صنف دی او اوس دې دپاره هڅې روانې دي چې دغه په موسیقۍ کښې ځای ونیسي او د اولس غوږونو ته ورسي.

څۀ که د جاپان هائیکو درې بنده او پنځه اوۀ او پنځه ده او په پښتو کښې هم دغه درې بنده هائیکو یولس یولس یولس ده چې دا په موسیقۍ او ادبي حلقو کښې مقبوله شوې ده. بیا هائیکیزه د دې پښتنې شوې هائیکو نه وتی بیخي پښتنې صنف دی.

د اهائیکیزې یو مثال دلته راوړو چې د هئیت او ساخت ئې هم وضاحت وشي.

"ستا د ښائست له قیامتونو نه ځار
له درده ځار له حسرتونو نه ځار
له څړیکو څړیکو راحتونو نه ځار
د ژوبل ژوبل لذتونو نه ځار
د بدلیدونکو ساعتونونه ځار
د محبت له عظنتونونه ځار
چې د زامنو ئې ودونه جوړ شي
مېندې په سپین سر ګډاګانې کوي"(۵)

بله حواله به د هائیکیزې د پښتنې کیدو په حقله اولیکم چې په جاپان کښې نۀ خو ګودرونه شته او نۀ تنکۍ، نۀ پیزوان، نۀ چارګل، نۀ میچنه او نۀ کلیواله لیونۍ او نۀ جاپانیان په لاسو کښې د قسمت کرښې ګوري. دا روایات او توهمات پښتنې دي چې په دې لاندې هائکیزه کښې ښکاره بریښي.

"مرګ پرې خبر کړه زندګۍ ته وایه
ستورو ته اووایه سپوږمۍ ته وایه
د ګل په خوا کښې لولکۍ ته وایه
د الفتونو شازادګۍ ته وایه
د محبت سلګۍ سلګۍ ته وایه
ورشه د کلي لیوانۍ ته وایه
د لاس میچنې د ې په خیال ګرځوه
چې د قسمت کرښې ترې ورانې نۀ شي"(۶)

۲. **ټیکئیزه**:

ټیکیزه هم د ټپییزې د لړ بدلون سره راښکاره شوې ده، خو مقبوله نۀ ده.وجه ئې دا دۀ چې دا د موسيقۍ د لارې لاپورې اولس ته نۀ ده رسېدلې. ګني د وئيلو په وخت ئې خوند هو بهو د ټپیئزې غوندې موثر کنه دی.

ګران جلال امیر خېل د ټیکیزې په حلقه یوه انټرنیټي حواله راوړي چې په یوه پاڼه خپور شوې وه. هغه ليکي!

" د سوما بلوګ په پاڼو کښې د مطيع الله طابع په نوم یو ورور د "ټیکئیزې په نوم د لنډيو نه د جوړ شوي شعر یوه بله بڼه پر لیکه کړې چې، ګران جلال بیا په خپله لېکنه "ټیکئیزې او ټپئیزې" کښې ډېره ستائینه کړې وه او د ټپئیزو پر ځای ئې ټیکئیزې غوره او په زړۀ پورې بللي وه."(۷)

ګران جلال امیرخېل د ټپئیزې په حقله مخکښې لیکي:

"د ډېر کشمکش او فکر وروسته دې نتیجې ته ورسیدم چې د ټپئیزو لیکل کوم ستونزمن کار نۀ دی، هر څوک نوي او بې نوښته شاعر هم کولې شي چې ټپئیزې ولیکي خو په دې شرط چې د ټپې انتخاب ئې په زړۀ پورې وي."(۸)

د بیلګې په توګه هم هغې بلاګ نه د ټکئیزې مثال راوړو چې د ټپئیزې او ټیکئیزې د ساخت او هئیت مثال واضح شي.

"مسلماني په چا کښې نۀ شته
په لندو لښتو مې وهي ما ژړوینه
د لاس بنګړي مې خرڅوي ما ژړوینه
د زړګي کور مې ورانوي ما ژړوینه
جانان له ما جدا کوي ما ژړؤینه"(۹)

د ټیکیئزې اول بند لکه د ټپې نهه سیلابه دی او ورستو څلور بندونه ئې دیارلس دیارلس دیارلس او دیارلس دي. د ساخت په حساب د ټپئیزې او ټیکئیزې بدلون دغه دی چې ټپئیزه اول څلور بنده نهه، نهه، نهه او نهه دي او اخر بند ئې دیارلس دی او د ټیکئیزې اول بند نهه دی او نور څلور بندونه ئې دیارلس دي.

او یا د ټکئیزې دا مثال چې هم د خوند رنګ سره زمونږ د کلتور یو ښکاره مثال هم دی.

"خدائی دې زما کړه غونډې منډې
د بادار ځمکه به کرم تا به ساتمه

په ځان به شپه ورځ یو کوم تا به ساتمه
لنډی کچر به چلوم تا به ساتمه
په سر به غټې پنډې وړم تا به ساتمه"(۱۰)

د پورته ذکر شوو خبرو د وضاحت دپاره ټیکیئزې مونږ اولیکلې اوس باید چې د سر خلاصیدو دپاره دوه ټپئزې هم د دغه انټرنیټي بلاګ نه د حوالې په توګه اولیکو چې وضاحت اوشي.

(الف) "شیبې د مرګ دې نهٔ وي لنډې
وهم دې شپې او ورځې منډې
وهي دي خلک په ما ملنډې
خدائی دې زما که غونډې منډې
په سر به پنډې چلوم تا به ساتمه

(ب) پاتې زما تر دې ښېرې شي
وروسته تر دې ایرې ایرې شي
نهٔ د حجرې نهٔ د دېرې شي
چېلمه مات ټوټې ټوټې شي
مئین په ما دې غم په تا غلطوینه"(۱۱)

زما په فکر ټپئیزې او ټیکئیزې دواړه په یو نوي بڼه او د معاصر ادب د مینه والو دپاره یو نوي انداز یو خوږ تکرار دی. جلال امیر خیل په خپله لیکنه کښې لیکي چې په دې دواړو کښې ډېر داسې هم اوشي چې یوه ټپه به دوه او درې ځل ځهٔ چې لس ځل هم تکرارشي، یو شاعر به په ټپه، ټپئیزه یا ټیکئیزه لیکي بل به ئې هم پرې لیکي، بل به ئې هم پرې لیکي خو ما چې څومر ټپئیزې لیکلي دي نو چې کومه ټپه مې خوښه شوې ده نو هغه مې د ټپئیزې په چوکاټ کښې خلقو ته د یو خوږ تکرار دپاره وررسولی دی. ټپې خو د هر چا خوښې وي او جلال امیر خیل لیکي چې څومره ماته معلومات دي د لیونتوب تر حده ورسره مینه لرم. ځکه مې دغه لیکنه کړې ده او د زړهٔ خبرې مې د قلم څوکې ته راغلي دي.

اروابناد حبیب الله بیتاب په دوه زره دیارلسم کښې راقم الحروف ته په سیدو شریف (سیدو بابا ) کښې دا خبره د ټپئیزې په حقله کوله !
زه ورته نوې ټپه نهٔ کومه
شاعر جانان ترې ټپئیزه جوړوینه"(۱۲)

اوس مونږه دريم صنف ټکوريزې پلو ګام اخلو چې ټکوريزه کله او څنګه پښتو منظوم ادب ته د موسيقۍ د لارې راغله. لږ وضاحت به کول غواړم.

د يو قام د مجموعي مزاج اندازه که لګوو نو بايد د هغوئي اولسي سندرو ته ځير شو ځکه چې په دغه سندرو کښې د پيړو مودو راهسې د دغه قام د رسمونو رواجونو، اعتقاد، معاشرت، روحاني ژوند او فکري انداز رڼاګانې خوندي وي. دغه اهنګونه په ډير بې ساختګۍ سره د کليوالو جذبو سره د پاکو زړونو او ذهنونو نه راوتلي دي. د دغه اولس د ژوند سره ئې يو اوږد سفر کړې وي. پښتو او پښتانۀ هم په دغه اړه شتمن دي. چې د خپل تاريخ په اوږدو کښې د اولسي سندرو يا اولسي شاعرۍ زرګونه ژوندي خيالونه او اهنګونه لري. د ليک لوست د زمانې نه ډير وړاندې راهسې دغه سندرې کله خو د هجرې د ټنګ ټکور او يا قربان سره د پښتنو زړونو ته کوزې شوي او يا ئې په غمونو کښې داسې ساندې شوي چې د يو بل سره د ترون او مينې ټول خواږه رابرسيره کوي او خپل د غم ښادۍ رواياتو ته دوام هم ورکوي. هسې خو د پښتون وطن د يو شمېر سيمو رواياتو تر څنګ د هرې سيمې خپلې سندرې دي خو د پښتو ځينې اصناف داسې دي چې د مودو راهسې د پښتنو په هره سيمه کښې د خپلو پوره خوږو سره يادولې اوريدلې او ستائيلې شي، خو د کله راهسې چې پښتانۀ د نورو اولسونو د تاريخي او کلتوري، ادبي او سماجي هلوځلو د خپل علم په لاز خبر شول نو بيا ئې دغه شتمن احساسات د غزل، نظم، ازاد او معري نظم په رنګ کښې داسې رامينځ ته شول چې نن ئې د نړۍ د نورو ژبو د شعري صنفونو په مقابله کښې وئيلې، ليکلې او اېښودلې شو. په دغه لړۍ کښې له ازاد نظم سره وروستو د جاپان نه راغلې صنف هائيکو سر ووهلو چې پښتون مزاج کښې ئې ځانته ځای پيدا کړو . د جاپان د هائي کائي نظم دغه برخه، چې درې مصرعې ئې لرلې او د سېلابونو وزن ئې د پينځه اووه پينځه په حساب ؤ د مقبوليت هغه ځای ترلاسه نۀ کړو، کوم چې په هائيکو کښې د وزن او سيلابونو د بدلون څخه وروستو د پښتنو زړونه او ذهنونه د ځان سره واخستل. دغه انداز او جوړښت د هائيکو د يوولسو سيلابونو ؤ، چې درې واړه مصرعې ئې برابرې وې ولې په ځان کښې ئې د پښتو جديد او قديم مزاج ټول مضمونونه ځای کول. لکه د بېلګې په توګه دغه هائيکوګانې!

په لوپټه ئې راله سر ترلو :: وئيل ئې هر څۀ مې قربان شه له تا
چې نۀ ناجوړه ئې سر توره ښه يم :: يا دغه هائيکو اوګورئې

"د کلي خان ترې مزدوري وخوړه :: غریب کوچوان چې څۀ کولی نۀ شو
نو خپله اسپه ئې په چابک زخمي کړه" (۱۳)

دغه صنف تر دې، چې د موسیقۍ د سرونو سره د اولس تر غوږو شو، کتابونه ئې چاپ شول، څیړنې پرې وشوې، او په دغه موده کښې هائیکو د یو شمېر انتقادونو ښکار هم شوه. چې په کښې ښاغلی رحمت شاه سائل دا صنف د پښتو خپل پخوانی صنف بولي، خو د دې په راپېدا کولو او ورله د کوم پښتون نوم اېښودلو په اړه ټینګار هم کېږي. وایم زمونږ په اولسي سندرو کښې د هائیکو رنګ، خوند او اهنګ لکه پخوا راهسې موجود وو. چې د بیلګې په ډول مونږ دغه سروکي په پام کښې نیولی شو.

اور دې عالمه
چاپیره اور دی
په مینځ کښې زۀ اوسوزیدمه
اویا داچې !
ما پرې سیزي
ځي په مکیزونو یاره
حجرې له بله ډیوه وړي(۱۴)

ښاغلی سائل داشان د پښتو د یو شمېر اولسي او کلاسیکي شاعرانو د کلامونو نورې نمونې هم د دریو مصرعو په جوړښت کښې راوړي دي او د هائیکو د صنف په حواله د ښاغلی ډاکټر اظهار په کتاب لیکي!

" د ښاغلی اظهار د کتاب د سریزې نه معلومیږي چې دې په دې صنف ډېرو خلقو ځورولی هم دی، خو دې ورته لکه د غره ولاړ هم پاتی شوی دی، پخپل کتاب کښې دا صنف د نورو اصنافونو په مقابله کښې هم ودرول غواړي. لکه چې وائي "کوکو یم راته پسخیږي ټپې، زۀ هائیکو یم" خو چې دغه انتقادونو تر مینځه د روان عمل څۀ موده کیږي او هائیکو ولسیت مومي، نو ښاغلی رحمت شاه سائل د پښتو اکېډمۍ په میاستنۍ مجله کښې خپله خبره تر ډېره حده داسې هم تائیده وي، چې!

"هسې هم جاپان زورور ملک دی، زمونږ د پښتنو کوم کور چې که نوی وي نو کوم سیکنډ هینډ جاپانی څیز به په کښې نۀ وي پروت نو یوه ئې دا هائیکو هم په سر سترګو."(۱۵)

د دغـه انتقـادونو پـه ځـواب کښـې د پښـتو ژبې وتلی څېړنکـار نقـاد او شـاعر ډاکټر اظهـار الله اظهار لکـه د غـر ولاړ ؤ، دا نـه، چـې دغـه انتقادونـه ئـې يـواځې ځوابـول، بلکـې د دې تـر څنګ ئـې د پښـتو د هـائيکو د تخليـق، تحريـک، چمتـو وسـاتلو، چـې درې کتابونـه ئـې د هـائيکو چـاپ کـړل او دغـه شـان ئـې د دې پـه تـاريخ، خصوصـيت، غوښـتنو او اهميـت پـه زړهٔ پـورې او مـدلل بحـث او څېړنـه هـم اوکـړه. ډاکټـر اظهـار د هـائيکو پـه اړه پخپـل کتاب "راته غوړونو کښې بنګړي شړنګوي" ليکي!

"هـائيکو د ادب حصـه ده او ادب د فـن، د ادب د ټولـو نـه لـوئی مقصـد د ښائسـت او ښکلا زيږول دي، نو د هائيکو مقصد هم د ادب دغه مقصد ترلاسه کول دي."(۱۶)

تـر دغـه ځـای، چـې د اختلافـاتو دغـه سـفر کښـې ښـاغلی اسـماعيل ګـوهر د پښـتو هـائيکو د اول ليکـوال ځـای تـر لاسـه کـه چـې د (موسـکا) پـه نـوم د دې صـنف کتـاب چـاپ کـړو او دغـه صـنف دغسـې د پښـتو شـعري ادب يـو باقاعـده صـنف پـه توګـه تسـليم کـړی شـو. وروسـته پروفيسـر محمـد نـواز طـائر، ډاکټـر اظهـار الله اظهـار، ناهيـد سـحر او يـو شـمير نـورو شـاعرانو د هـائيکو کتابونـه چـاپ شـول، د دې صـنف د رسـميت دنـده پـه غـاړه ئـې واخسـته. دا هغـه دور دی چې د پښـتو ژبې شعري سفر ډېر پـه تيـزۍ سره د يـو شـمير ليکوالـو پـه بدرګـه کښـې پړاوونـه سر کـوي . نـوې تجربـې کـولی شي او نـوي خيالونـه د ولسـي ښـېګړو سـره سره د وطـن امـن او مينـې رنګونـه شيندي. د هـائيکو پسې د ادبي ا وهنـري يـون پـه دغـه پړاو کښـې پښـتنو ټپـه د جـدت يـو نـوی تيغـی ټوکـوي چـې د پښـتو ټپـې زوړ روايـت هـم ژونـدی سـاتي. تـاريخي پـت هـم ورسـره پـالي او ترڅېـره حـده د هـائيکو او ټپـې يـو امتـزاج داسـې رامـيځ تـه کـوي چـې د لـر او بـر پښـتون اولـس زړونـه هـم ډېـر زر پـه ځـان مئينـوي او دغـه تيغـی د پښـتو جديـد اصـنافو پـه قطـار کښـې ځـای هـم پيـدا کـوي چـې "ټپئيـزه" نـوميږي. دغـه نـوی صـنف د پښـتو خـوږ سـندرغاړی کـرن خـان پـه خپـل مئينـونکي اواز کښـې لـر او بـر پښـتنو تـه د پښـتو د موسـيقۍ پـه خـوږو آهنګونـو کښـې وړآنـدې کـوي د څـو مياشـتو دغـه سـفر د ټپئيـزې دپـاره داسـې لګـي لکـه چـې کلونـه سـفر ئـې کـړی وي ځکـه خـوئي اوس د پښـتو شـاعرۍ ډېـرې څرګنـدې نـامي هـم ليکـي او يـو شـمير سـندرغاړي ئـې وائـي. تـردې چـې اوس ئـې پـه کتـابي شـکل کښـې هـم د پښـتو شـعري تـاريخ کښـې ځـان تـه ځـای پيـدا کـوي. چـې دلتـه بايـد د بـرې پښـتونخوا د ګـران ملګـري شـاعر حنيـف حيـران ذکـر وشـي چـې د ټپئيـزې د اولنـي کتابـد چـاپ خـالق وګرځيـدو کـوم چـې دانـش خپرندويـه ټـولنې پېښـور د (يـو ځلـې بيـا پـه دې لاړ راشـه" پـه نـوم چـاپ کـړو. د ټپئيـزې جوړښـت داسـې دی، چـې د ټپـې د اول مصـرعې نـه وړآنـدې درې مصـرعې هـم قافيـه راځـي چـې د ټپـې د لـومړۍ مصـرعې سـره د نهـو سـيلابونو پـه وزن کښـې هـم برابـر وي او پـه قافيـه کښـې هـم د ټپئيـزې د ليـک او وينـا پـه لـر او بـر

پښتنو سيمو کښې تود هر کلی کېږي او دغه شان د پښتو شعري سفر کښې ئې نوې تجربو ته لارې خلاصېږي. په دغه سفر دغه ټپئيزې وتلی معاصر هنر مند کرن خان د خپل اواز دغه سرور، د اولسي سندريز بهير يوې نوې تجربې ته د ټکوريزې په ويلو مخ ته راړوي او بيا دغه کمپوز په خپل نوي البم (تعبير) کښې ځايوي هم چې يقيناً ډېر ګران کار او نوی قدم دی. ټکوريزه په پښتو منظوم ادب کښې يو نوی قدم دی چې لکه د نورو شعري اصنافو خپل جوړښت لري هم د لفظونو له لارې هم د فن له لارې، هم د خيال او هم د مضمون لکه د ټپې مصرعې يا لنډۍ د نومونو غوندې ټکوريزه هم د خوږو زړونو د ټکورلو کار کوي، چې د ژوند د درد احساس او پرهر پرهر اندامونو د رغولو په اړه به د پښتو ټپې په مرسته د خپل نوم معنې څرګندونه کړی شي. ټکوريزه د ټپې نه وړاندې که وايو چې د څلورو مصرعو قطعه لري. نو بې ځايه به نۀ وي. خو دغه څلور مصرعې چې د پنځه سيلابونو دي يو خيال او مضمون لري او لومړۍ دوه مصرعې ئې هم قافيه وي دريم جدا او څلورمه بيا هم د لومړنيو سره يو شان وي کومې چې د وروستې ټپې د اولنۍ مصرعې سره هم قافيه وي. دلته بايد د بيلګې په توګه څو ټکوريزې راوړلی شي چې د لوستونکو او اوريدونکو سره معارفي هم شي او د ليک دغه اولنی قدم ئې په راتلونکي کښې د وړاندې تګ لاره وګرځي!

چېرته خوار نۀ شې
او بې لار نۀ شې
دا مې دعا ده
چې بيمار نۀ شې
بچېه! د سکول نه قلار نۀ شې
زۀ به پردۍ جامې ګنډم تا به ساتمه
او يا لکه دا ټکوريزه!

ستا غم مې مل دی
ځکه مې خپل دی
خوږ پېښور دی
شيرين کابل دی
وطن دې ببل وطن مې ببل دی
دعاسلام دې راليږه چې څوک راځينه

او یا دا ټکوریزه؛

هېڅ درنه وړي
غم به په زړۀ وړي
خوږو له راشي
همیش تراخه وړي
خوښدې د ورور د کوره څۀ وړي
خواره زلفان په اوږو وړي په ژړا ځینه(۱۷)

۳. **ټکوریزه** :

د ټکوریزې په اړه ځینې ملګري دا ګڼي چې ګنې د پښتو لنډۍ ته د معنویت او یا جوړښت په لحاظ زیان دی(۱۸). باید وویلی شي چې ټپه د پښتو هغه یواځېنی تاریخي صنف دی چې صرف په پښتو او پښتنو کښې دی بلکې بله کومه ژبه یا قام ئې نۀ لري او نۀ ئې لیکلی یا ویلی شي. ډاکټر اظهارالله اظهار ټکوریزه د ژوند او ادب د ټولو مضمونونو او کیفیاتو سره ډېره نزدې لري او د دغه نوې تجربې په اړه د پولي پورې راډیو په خپرونه "ادب او فرهنګ" کښې خپل خیالات داسې څرګندوي.

"ټکوریزه د ژوند په پرهرونو باندې د مرهم پټۍ حېثیت لري، خو دا مثال د دې صنف په ټول هنري وسعتونو باندې حاوي نۀ دی. ځکه چې مرهم پټۍ محدوده او مقیده وي، خو ټکوریزه داسې صنف دی چې په ژوند کښې کوم کوم ځای درد محسوسېږي، هغه مقاماتو کښې ورته دا صنف ټکور ټکور استقبال کوي. دا تجربه ښاغلی اسرار اتل ادب او ژوند سره د مینې په بنیاد کړې ده او چرته چې بنیاد "مینه" وي هلته د ناکامۍ سوال هم نۀ پېدا کېږي. "ټکوریزه" چې په دغه اړه یو نظمیه جوړښت هم لري. د پښتو لنډۍ خواږه لازیاتوي او د بلې خوا زمونږ د ځېنې قومي او تاریخي ټپو د خوندي کولو یوه شعري او کامیابه هڅه هم ده. باید دا هم ووئیل شي چې هره ټپه ټکوریزه نۀ شي جوړېدی ولې د ځینو ټپو جوړښت داسې وي چې د نظم په دغه برخه ګډېدو ئې خوند لازیاتېږي او زړۀ پرې تسکین مومي. ولې دا وینا هم ضروري ده چې باید د ټپې نه ورته ټکوریزې پاتې برخه ښه مضمون او خیال ولري. داسې نه، چې د ټپې د خوږو او خیال په زور په زړونو کښې ځای اوکړي دغه خو خالي ټپه هم کولی شي، ځکه نو د ټکوریزې د لیک په وخت دغه فکر خیال کښې اوساتلی شي، چې د ښو ټپو انتخاب اوکړی شي او دغه شان د پښتني قدرونو او کلتور له عملي ژوند مثبت خیالونه ورسره د نظم په اولنۍ برخۀ کښې د ښه جوړښت سره ګډ کړی شي. پاتې شوه دا چې ایا ټکوریزه به د پښتنو په زړونو کښې لکه د نورو صنفونو ځای اوکړي؟ دا په لوستونکو پرېږدو او په لیکوالانو هم، چې د ټکوریزې په

کوم انداز کښې ستائنه کوي او تر کومه ئې مخ پر وړآندې بوځي، په دغه اړوند زۀ باوري یم چې دا فیصله به راتلونکي ډېر کم وخت کښې اوشي."

لاندې د ټکوریزې یو څو نور مثالونه راوړو چې د ټپې سره ئې وضاحت اوشي چې کومه ټپه د ټکوریزې دپاره موزونه کیدی شي.

چې کډه نغاړې
سبا به ژاړې
الله نۀ غواړه
چې څۀ ترې غواړې
که خدائی مې ته وې رانه لاړې
که چرې بل وي تانه ښه به مې ساتینه
او یا دا ټکوریزه!
بل تنورونه
همزولي جونه
زمونږ د خوارو
خوار نصیبونه
زما او ستا تر مینځه غرونه
سپنې سپوږمۍ ته سلام کړه سلام به کړمه
او یا دا ټکوریزه چې د پښتني کلتور په زړۀ پورې مثال دی.

ژوند سزا نۀ ده
مینه غلا نۀ ده
غم مو شریک دی
خوخندا نۀ ده
وادۀ د خوښې ګناه نۀ ده
خویندې دې ولې پیغورونه راکوینه

۴. **تسکینۍ:**

د تسکین مانیروال کتاب "چې ښه ښکلي صحرا وي" کښې یو صنف د ماهیه په نوم چاپ دی. ماهیه د پنجابۍ ژبې صنف دی چې دوه مصرعې لري وړومبۍ مصرعه ئې اته سیلابیزه او دوهم مصرعه لکه د ټپې دیارلس سیلابیزه ده. چې په اولسي ادب کښې ورته پنجابۍ ټپه هم وئیل کیږي. د بیلګې په توګه یوه ماهیه وړاندې کوو.

دو پتهر اناره دی
ساړه دکهه سن کی روند دی پتهر پهاړه دی

دغـه شـان ریـاض تسـنیم "زهٔ کـه دا واريږ اوده شـوم" کښـې هـم د تسـکین مـانیروال پـه انداز ماهئې ليکلي دي خو د دې مصرعو بندونه درې دي او هر بند اته اته سيلابونه لري.

" پښـتو کښـې زمـا نـه مخکښـې هـم مـاهئې ليکلـي شـوي . مـا صـرف دومـره وکـړه چـې درې واړه مصـرعې ئـې پـه اتـهٔ اتـهٔ سـېلابه کښـې وليکلـې شـي چـې د پښـتو د خپـل وزن سـره سـمون وخـوري او د موضـوع پـه لحـاظ چـې مضـامين هـم دومـره او پـوره را نـهٔ وړل شـي چې د خواصو له نظره پريوځي"(۲۰)

د ريـاض تسـنيم نـه وړانـدې پـه ۲۰۱۳ يـا ۲۰۱۴ کښـې تسـکين مـانيروال خپـل کتـاب "چـې ښـه خوشـي صـحرا وې"، کښـې هـم پـه دغـه اتـه اتـه سـيلابه کښـې ليکلـي دي او وئيـل کيـږي چـې هـم پـه دغـه نـوم اسـماعيل ګـوهر هـم مـاهئې ليکلـي دي خـو د مـاهئې نـه تسکينۍ دي.

د رياض تسنيم د کتاب د حوالې په توګه دوه ماهئې چې تسکينۍ دي رانقل کوم.

لکه ريګ د بيابان يم
ستا د سترګو بلا واخلم
دا د چا په ډاډ روان يم
او يا دا ماهيه

ټک وهلي په ګريوان دي
دغه ستوري ځوانې مرګې
ستا د حسن ګواهان دي"(۲۱)

اسـراراتل، راقـم الحـروف، فيصـل فـاران، د تسـکين مـانيروال پـه کتـاب کښـې ليکلـي دغـه صـنف تـه زمـا خيـال شـو او چـونکې دا پـه موسـيقۍ کښـې کمپـوز کـړی شـوی ؤ او پـه نـوم مـو ورلـه بحـث کولـو. اخـر دا چـې لنـډېزه، تسـکينيزه، تسـکينۍ او اتسـکينۍ نومونـه مـو خـوښ شـو. بيـا مـو تسـکين مـانيروال تـه ټيلـي فـون اوکـړه. پـوره بحـث نـه پـس تسـکين مـانيروال د نـوم ټـاکلو اختيـار فيصـل فـاران لـه ورکـړو. پـه دا مهـال انعـام الله غالـب، ارشـاد پښـتون او انـورعلي خـان موجـود وو چـې د پـي ايـچ ډي سـکالران دي او تسـکين مـانيروال دغـه صـنف پـه کتـاب کښـې د مـاهئې پـه نـوم چـاپ ؤ. د تسـکينۍ پـه نـوم بـدل شـو چـې زمـا پـه راتلـونکي البـم "هنـداره" البـم نمبـر ۱۲ کښـې د تسـکينۍ پـه نـوم پـه ۲۴ تـاريخ پـه اومـه مياشـت زيارت په ورځ په کال ۲۰۱۴ کښې خپور شو. د تسکينۍ نمونې دا دي:

یاد دې نۀ یم مسافره
پېسو هر څۀ درنه هیر کړه
په زړۀ سخت شولې کافره

که زما ئې نو باچا شې
که د بل چا په نصیب ئې
بیا په هر حال کښې تباه شې

د جنت ټوټه وې سواته
اوس دې داسې اور اخستی
شم لمبه چې ګورم تاته

څۀ که یار دی په کابل کښې
چې په سترګو ئې نۀ وینم
پروت مې دی د زړۀ په تل کښې"(۲۲)

۵. **غاړیزه (کاکړیزه)**

کاکړیزه یا غاړیزه د کاکړې غاړې نه راوتې یو نوی شعري ژانر دی . د دې ژانر د ایجاد کریډټ ښاغلی صادق ژړک ته حاصل دی . د هغه شعري مجموعه "نه وې ستا ښائستې سترګې" هغه ټولګه ده چې ړومبي ځل په کښې کاکړیزې رامینځ ته شوي دي.

"فیصل فاران په تنقیدي فیصلې کتاب کښې لیکي. دغاړیزې دې ژانري تجربه کښې هم د ټپئیزې غوندې د تضمین تیکنیک په مخمس کښې په کار راوستی شوی دی. چې یو خوا دغه نوی صنف فولکلور او بل خوا کلاسیک سره اوتړي. کلاسیک کښې مخمس نظم کښې د یو پوره بند په صورت راځي. او دلته ئې ځان له د غاړیزې "کاکړیزې" په ډول د قافیه بند مخمس نظم حېثیت ترلاسه کړی. د دغه تجربې دټولو نه لوئې جواز دا بریښي چې د هئیت نه پرته د ماهئیت له رویه د غاړو معنویت ته فراختیا او دوام ورکړي."(۲۳)

د پښتو په تاریخ کښې کاکړې ډېره اهمه برخه لري. په تاریخي ښه مونږ سره داسې کاکړې شته چې د هغه وخت د حالاتو ترجماني کوي. په دې حقله صادق ژړک کتاب کښې لیکي!

"ښاغلی پوهاند سیال کاکړ په "پښتو او پښتانهٔ په سهېلي پښتنونخواکښې" د شجاع د مېړانې او مړينې په باب داسې کښلي دي.

"يوه پلا په يکړ سر د کاکړو د برښور په سره خو اکې د ګوګيانو سره په مبارزه اخته سو چې په نتيجه کې دوه ګورګيان مړو او سوجا احمد خيل شهيد سو.

"يوه داسې غاړه په لاس لرو چې له هغې څخهٔ جوتيږي چې شجاع غازي په سره خوا کې د پيرنګيانو سره په جنګ کې شهيد شوی دی. لکه"(۲۴)

دين مو لاړي سو تر شا
خود به سوجا مري پر سره خوا
او يا دا کاکړی غاړه!

پر دره ګورګيانو تېر کړ
سوجا هم پښتنو هېر کړ
او يا دا کاکړی

مورئې زاړي وهي ساندې
د لالي پر ايرو باندې
دغه لاندې مثال هم ښه تاريخي نمونه ده

د احمد د سرسايه
سرو پيرنګيانو کئي يره"(۲۵)

د غاړيزو په حقله عبدالغفور ليوال د صادق ژړک په کتاب داسې ليک کوي!

"ما چې د ګران ژړک دا نوښت (غاړيزې) د هغه له غزلونو سره پرتله کړې نو ډېر ژرئې پر غزلونو باندې هنري برلاستيا ته ځير شو؛ لکه دا بيلګه!

ما و تا چې ماشومان وو
ښائسته لکه ګلان وو
راښه څاڅکي د باران وو
د ځوانی پر لور روان وو
يو پر بل ډېره سره ګران وو(۲۶)"

ځينې کاکړی غاړيزې دوه بنده او اووه، اووه سيلابه لري چې هغه په کاکړيزې يا غاړيزې کښې په پنځه بنده او اوه اوه سيلابه ليکل شوي دي. خو مستندې کاکړی دوه بنده آته آته سيلابه لري د بيلګې په توګه به اوه سيلابيزه کاکړی هم راواخلم.

تی پر څۀ ورکوئ قران
خدای مو زړونه که بېران
په اوروسئ په ارمان
راخبر مو کړئ جهان
کله مه لید پښتنو ګران"(۲۷)

او ځینې کاکړېزې چې پینځه بنده او اته اته سیلابه دي لکه د بیلګې په توګه!

ګران د بوري مېړې وری وای
سپینکی غاښ ئې میرواری وای
پر هر بند باندې وښی وای
ښائسته لکه غمی وای
زې د غاړې غړوندی وای"(۲۸)
یا دا کاکړیزه!
ستا د سر راکه تارونه
پرهر لور دي فریادونه
بیلتون غرق کړل ډېر کورونه
زما دوا دي ستا مارونه
په ګنډم د زړۀ زخمونه
او یا د اوۀ اوۀ سېلابه او پنځۀ بندونو کاکړېزه!
روځې ډېرې شپه یوه
شاوخوا توره تیاره
د هوس نوې کوټه
ښه د ژمي اوږده شپه
نن مه نرۍ ده میلمنه(۲۹)"

په دې حقله هر کله چې مونږ صادق ژړک سره بحث وکړو نو د هغې نتیجه دا راووته چې په کاکړۍ غاړو باندې کومه نوې صنفي تجربه شوې هغې ته غاړېزه وئیلی شي ځکه چې غاړې یواځې د کاکړو لوئې پرګنې پورې محدودې نۀ دي ځکه دغه نوې تجربه د کاکړېزې نه زیاته دغاړیزې په غوره نامه بلل کېدل به مناسب وي.

❀❀❀

# حوالې


1 https://www.britannica.com/art/haiku

۲ اظهار، اظهارالله، زمکې د اسمان رنګونه راوړي دي، اعراف پرنټرزندیم سنز، پېښور، ۲۰۱۷، مخ، ۶

۳ ایضاً، مخ، ۷

۴ ایضاً، مخ ۷

۵ ایضاً، مخ ۱۰۴

۶ ایضاً، مخ ۱۱۴

7 Available on http://thanda.gloguna.tolafghan.com/posts/7518, accessed on 28.05.2017

8 Ibid.

9 Ibid.

10 Ibid.

11 Ibid.

۱۲ په شفاهي بڼه،(دا ټپه ما راقم لحروف ته په دوه زره دیارلسم کښې ارواښاد حبیب الله بیتاب په سیدو شریف کښې د ټپئیزې په حقله کړې وه.)

۱۳ اظهار، اظهارالله، ډاکټر، راته غوړوونو کښې بنګړي شړنګوي، ۱۹۹۸

۱۴ سائل، رحمت شاه، میاشتنۍ پښتو، پښتو اکیډمي پېښور، جولائي، اګست ۲۰۰۳

۱۵ ایضاً.

۱۶ اظهار، اظهارالله، ډاکټر، راته غوړوونو کښې بنګړي شړنګوي، ۱۹۹۸

۱۷ حیران، محمد حنیف، یو ځلې بیا په دې لار راشه، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، س-ن

۱۸ عبدالرؤف بینوا، پښتو لنډۍ، چاپ نامعلوم، س، ن

۱۹ ساجد، ایملیار، د کرن خان زمزمې، (لومړی ټوک) د مومند خپرندوي ټولنې تخنیکي څانګه ننګرهار، مخ، ۵۶، ۵۷

۲۰ تسنیم، ریاض، زۀ که دا واړې اوده شوم، (اول چاپ)، پښتو ادبي ملګري کراچۍ، ۲۰۱۶، مخ ۸

۲۱ ایضاً، مخ ۹۷

۲۲ کرن خان، پښتو سندریز البم "هنداره" د خپریدو ځای، اوډین کیسټ هاؤس پېښور، جولائي ۲۰۱۴

۲۳ فاران، فیصل، تنقیدي فیصلې، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، جنوري ۲۰۱۴، مخ ۲۳۵

۲۴ ژړک، صادق، خیړنې او ارزونې (لومړی ټوک)، پښتو نړیواله مرکه، ۲۰۱۶، مخ، ۴۴،۴۵

۲۵ ایضاً، مخ، ۴۴

۲۶ ژړک، صادق، نۀ وې ستا ښائسته سترګې، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۲۰۱۱، مخ ۹

۲۷ ایضاً، ۶۷

۲۸ ایضاً، هم دغه مخ

۲۹ ایضاً، مخ، ۷۲